AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی ۲۰ / ۱۲ / ۲۰۲۱

# لوړ غرونه او لوړ فکرونه

غرونه چې څونه لوړ وي، ډېرې واورې پرې اوري او چینې یې له رنو او پریمانه اوبو ډکې او دایمي بهیږي. د داسې غرو ناوونه او درې په راز راز ونو او بوټو پوښلې او لمنې یې شنې او سمسور وي.
ټولنه کې هغه کسان هم چې لوړ افکار او ژوره پوهه لري، د واورینو لوړو غرو او سمسوره درو حیثیت لري.
ټولنه د همدغه کسانو د افکارو په برکت پر ناخوالو برى مومي او پرلپسې د پرمختیا او لوړتیا پړاوونه وهي.
زموږ خلکو ته لوړ غرونه ښکاري، خو د لوړو افکارو خاوندان ور ته نه ښکاري!
تر هغو چې ټولنه کې د ژورو افکارو ارزښت او د پوهانو درنښت ونه پالل شي، که د واورو او چینو اوبه د ټولنې څمکه خړوبه هم کړي، ټولنه به د پوهې د نیستمنۍ په لامل د هر اړخیزې شتمنۍ خاوند نه شي!
«د بلې سیارې خلک»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ